(c) ketabton.com: The Digital Library

| فزيكي كميت | واحد او د هغه خاص نوم | فزيكي كميت | واحد او دهغه خاص نوم |
|---|---|---|---|
| قوه | نيوټن $kg\,m/\sec^2$ | مساحت | $m^2$ متر مربع |
| فريكونيسي | هرتز $s^{-1}$ | حجم | $m^3$ متر مكعب |
| فشار(STRESS) | پاسكال $\frac{N}{m^2}$ | سرعت | $m/s$ متر پر ثانيه |
| انرژي، كار، د تودوخې مقدار | ژول $kg\,m^2/s^2$ يا $N\cdot m=J$ | كثافت | كيلوګرام پر مترمكعب $kg/m^3$ |
| قدرت | واټ $kg\,m^2/s^3$ $\frac{t}{s}=watt$ | حجم مخصوص | مترمكعب پر كيلوګرام $m^3/kg$ |
| برقي چارج | كولمب $S\cdot A=C$ | د جريان كثافت | $A/m^2$ امپير پر مترمربع |
| د بريښنايي پوتنشيل توپير- محركه قوه | ولت $m^2.kg.s.^{-3}A^{-1}=\frac{W}{A}$ | د مقناطيسي ساحې شدت | $A/m$ امپير پر متر |
| ظرفيت | فاراد $F=\frac{C\ \text{كولمب}}{V\ \text{پوتنشيل}}$ $(m^{-2}.kg^{-1}.s^{4}.A^{2})$ | د يوې مادې دتمركز كيدو مقدار | مول پر مترمكعب $mol/m^3$ |
| بريښنايي مقاومت | اوم $m^2.kg.s^{-3}.A^{-2}$ | كنډيلا پر متر مربع (د روښنايي شدت) | $cd/m^2$ |
| د سانتي ګريد درجه | $C^{\circ}$ | مقناطيسي فلكس | وېبر $Web=T\times m^2$ $(m^2.kg.s^{-2}.A^{-1})$ |
| د روښنايي شدت | كنډيلا $cd$ | د مقناطيسي فلكس شدت | ټسلا $(Kg\cdot s^{-2}\cdot A^{-1})$ $\frac{Web}{m^2}=T$ |
| مسطحه زاويه | راديان $m.m^{-1}$ | اندكشن(القا) | هنرى $(m^2 kg.s^{-2}.A^{-2})$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرنگه چې $A = r_1 + r_2$ او $r_1 = r_2 = r$ دي نو $A = 2r$ يا $r = \frac{A}{2}$ دی.


که $i_1$ او $r_1$ قيمتونه په $\sin i_1 = n \sin r_1$ رابطه کې وضع کړو، نو ليکلای شو چې:

$$n = \frac{\sin \hat{i}}{\sin \hat{r}} = \frac{\sin \frac{\hat{D}_m + \hat{A}}{2}}{\sin \frac{\hat{A}}{2}}$$

له پورتنی رابطې څخه په ګټې اخيستنې سره منشور د انکسار ضريب اندازه کولای شو. که د منشور زاويه کوچنی وي، د اصغري انحراف زاويه هم کوچنی ده، کولای شو د زاويې sin په ځيله زاويه تعويض کړو، پر دې اساس:

$$n = \frac{\frac{\hat{D}_m + \hat{A}}{2}}{\frac{\hat{A}}{2}}$$

$$n = \frac{\hat{D}_m + \hat{A}}{\hat{A}} \Rightarrow \hat{D}_m = \hat{A}(n-1)$$




(4-18) شکل، په منشور کې د انحراف زاويي ښودنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه، د $A'\overset{\Delta}{B}'F'$ او $F'\overset{\Delta}{I}C$ مثلثونو له ورته والي څخه چې:

$$\frac{A'B'}{F'A'}=\frac{IC}{F'C}\Rightarrow\frac{A'B'}{IC}=\frac{A'F'}{F'C}$$

یا :

$$\frac{I}{O}=\frac{A'C-F'C}{F'C}$$

په پورتنی رابطه کې د $F'C$ او $A'C$ پرځای د هغوی قېمتونه وضع کوو:

$$\frac{I}{O}=\frac{P'-f}{f}..........(2)$$

د (1) او (2) معادلو له پرتله کولو څخه لیکلای شو چې:

$$\frac{P'}{P}=\frac{P'-f}{f}$$

یا:

$$P'f=pp'-pf.............(3)$$

په $fpp'$ باندې د (3) معادلې له وېشلو څخه پیدا کوو چې:

$$\frac{1}{P}+\frac{1}{P'}=\frac{1}{f}..........(4)$$

که د عدسیې لوی ښودنه د $\gamma$ په وسیله وښیو، نو له (1) معادلې لیکلای شو، ولیکو چې:

$$\gamma=\frac{I}{O}=\frac{P'}{P}..............(5)$$

(4) او (5) معادلې د محدبې عدسـیې معادلې. په دې ډول عدسـیه کې f تل مثبت، خو P او 'P د شي او تصویر د مجازیتوب په صورت کې منفي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$E_2 \; 9\times10^9 \frac{\mathrm{N\,m^2}}{\mathrm{C^2}} \times \frac{6\times10^{-6}\,\mathrm{C}}{16\times10^{-4}\,\mathrm{m^2}}$$

$$E_2 = 3.375\times10^7 \frac{\mathrm{N}}{\mathrm{C}}$$

خرنگه چې $\vec{E_1}$ او $\vec{E_2}$ ورته لوري لري، د هغوی د جمع حاصل له محصله ساحې سره برابره دی.


د $A$ په نقطه کې یوازې د $\vec{E}_A$ ساحه ده:

$$\vec{E}_A = \vec{E}_1 + \vec{E}_2$$

$$E_A = 2.250\cdot10^7\,\mathrm{N/C} + 3.375\cdot10^7\,\mathrm{N/C}$$

$$E_A = 5.875.\ 10^7 \frac{\mathrm{N}}{\mathrm{C}}$$

ب: که یو مثبت چارج د $B$ په نقطه کې کېږدو، د $q_1$ چارج هغه دفع کوي او د $q_2$ چارج هغه جذبوي، په نتیجه کې د $q_2$ $\vec{E_2'}$ چارج خواته او $\vec{E_1'}$ او $\vec{E_2'}$ خلاف لوری لري، (6-9) شکل.




(6-9) شکل

$$E_1' = 9\times10^9 \frac{\mathrm{N\,m^2}}{\mathrm{C^2}} \times \frac{4\times10^{-6}\,\mathrm{C}}{(10\cdot10^{-2}\,\mathrm{m})^2}$$

$$= 3.60\times 10^6 \frac{\mathrm{N}}{\mathrm{C}}$$

$$E_2' = 9\times10^9 \frac{\mathrm{N\,m^2}}{\mathrm{C^2}} \times \frac{6\times10^{-6}\,\mathrm{C}}{4\times10^{-4}\,\mathrm{m^2}}$$

$$E_2' = 1.35 \times 10^8 \frac{\mathrm{N}}{\mathrm{C}} = 135.0\cdot10^6 \frac{\mathrm{N}}{\mathrm{C}}$$

خرنگه چې $\vec{E_1'}$ او $\vec{E_2'}$ یو د بل مخالف لوري لري، نو محصله ساحه د هغوی د تفریق له حاصل سره برابره ده.

$$\vec{E_B} = \vec{E_2'} - \vec{E_1'}$$

$$E_B = E_2' - E_1' = 131.4\times10^6\ N/c$$

